

مسیحیت وپیژنئ

لیکوال : قریب الله (مطیع)
ژباړه : حمدالله (شاکري)

فهرست

سریزه 4
د ځینو اصطلاحاتو تعریف 5
تنصیر 5
تبشیر 5
مسیحیت 6
نصرانیت 6
استشراق (خاور پېژندنه) 7
د مسیحیت عقیده 8
1-د تثلیث عقیده: 9
2-د صلیب عقیده یا د مسیح په دارځړول او د هغې مقدس ګڼل: 12
اصلی حقیقت څه دی: 13
3-د قیامت په ورځ به عیسیٰ علیه السلام له خلکو سره حساب کوي: 14
مسیحیت ته دعوت 15
د مسیحي داعیانو مهم اهداف: 15
مسیحیت ته د دعوت وسایل 20
1-دیپلوماتیک پلاوي: 21
2-کاشفین: 21
3-طبابت: 21
4-د کسب اوهنر زده کړه: 22
5-لوړې زده کړې: 22
6-هغه مؤسیسات چې د مرستې اوهمکاری په نوم فقیر او: 22

-7د ښځو ښکار: 22
-8متخصصین او ګارګر: 23
-10دغربي او اسلامې هېوادو ترمنځ د کلتور او فرهنګ تبادله: 24
-11خبري وسایل او رسنۍ: 24
د مسیحیانو عبادت 25
د مسیحیان کتابونه 26
-1متې انجیل: 26
-2مرقص انجیل: 27
-3لوقا: 27
-4یوحنا: 27
د انجیل د کتابونو تحریف 28
-1ددې دین د پیروانو کمزوري یا ضعیفوالی: 28
-2د انجیل له منځه تلل او دسند تېتیدل: 28
:3پاولز یهودی: 29
ه) - د خنته یا سنتی له مینځه وړل: 31
-4دبت پرستی او فلسفې د عقایدو او افکارو اثر پر مسیحیت باندې: 31
د مسیحیت ډلې او فرقې 32
اول دکاتولیک فرقه: 32
دوهم د ارتودکس فرقه: 32
دریم د پروستانت فرقه: 33
د مسیحیت د خپرېدو او نشرمخ نیوی 33
په اسلام کې د مسیح علیه سلام مقام 35

په آخر زمان کې د عیسیٰ علیه السلام د نزول په اړه زمونږ عقیده 40
د مسیحیت د منسوخ دلایل 44
1-مسیحیت د قرآن په نزول سره منسوخ شوی:..... 44
د مراجع او مصادر لړلیک 47

سریزه

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی نبینا محمد صلی الله علیه وسلام وعلی سائر أنبیائه تسلیماً کثیراً. أمابعد!

زمونږ ګران هېواد له کلونو راهسې د اسلام دښمنو تر تېریو او حملو لاندې دی، دا حملي کله نظامي او کله د باطلو کفري افکارو په خپرولو سره صورت نیسي، مګر زمونږ زړور او مسلمان ولس د هر تیري کوونکي دښمن پر وړاندې درېدلي او دښمن یې خوار او ذلیل له خپل هېواد څخه شړلی دی.

دا چې زمونږ په هېواد کې قوي اسلامي حکومت شتون نه لري نو ځکه د د ښمن لپاره زمینه برابره ده تر څو خپل اهداف او ګټې تأمین کړي، هغوی ټول سره یو لاس دي او فعالیت کوي تر څو زمونږ بې چاره خلک خپل طرف ته ور مات کړي، حتی ماتي خوړلو کمونستانو هم بیا خپل ځانونه سمبال کړي په ښکاره فعالیت کوي او غواړي د ګیدړې څرمن په ځان کړي او خلکو ته بیا چل او فریب ورکړي.

همدارنګه مسیحیان هم په پوره ځیرکۍ له تیارې فضاء څخه استفاده کوي خلک د یو الله تعالی د بنده ګۍ څخه د دریو خدایانو بنده ګۍ ته بولي لکه چې دوی وایي (اوبه خړې کړئ او ماهیان ونیسئ) وضع زمونږ په هېواد او نورو اسلامي هېوادونو کې غواړي او همدا یې هدف دی، ځکه د امنیت نه شتون د ضعیف او فاسد حکومت موجودیت د هغوی په ګټه تمامیږي تر څو د مرستې، خواخوږی او بشر دوستۍ ترعنوان لاندې خپلې پوچې مفکورې پر خلکو وتپي.

د مسیحیت دعوتګر تر بېلابیلو پردو لاندې فعالیت کوي، او که اوسنی وضع دوام وموميي کیدای شي په نړدې راتلونکي کې خدای مه کړه د هېواد په مختلفو ځایونو کې خپلې کلیساوې جوړې کړي.

زمونږ خلکو د دین د پاره زیاتې قربانۍ ورکړي دي باید دا قربانۍ ضایع نشي۔ او ددې قربانیو ثمره د پردیو لاس ته ونه لویږي . نن ورځ پر هر مسلمان باندې لازمه ده تر څو له خپل دین څخه د خپل وس موافق دفاع وکړي تر څو د خپل دین پر وړاندې یې مسئولیت ادا کړی وي.

دغه کوچنی رساله چې په اسلامي هېوادونو کې د مسیحیانو د عقائدو او فعالیتونو څخه بحث کوي د چالاکه دښمن پر وړاندې د مبارزې یو لنډ ګام دی الله تعالی یې په خپل دربار کې قبوله کړي .

په آخر کې د حافظ دوکتور محمد الرحمن رحیمي څخه مننه کوم چې دغه کتاب یې په غور ولوستلو .

قریب الله «مطیع» مدینه منوره ژباړه او څه زیاتونه: حمدالله «شاکری» کابل

د ځینو اصطلاحاتو تعریف

تنصیر

تنصیر یو دیني، سیاسي او استعماري حرکت دی چې د صلیبې جګړو وروسته مینځ ته راغلی ددې حرکت هدف د نړۍ د مختلفو امتونو په مینځ کې د نصرانیت (مسیحیت) خپرول دي، داسې چې د دریمې نړۍ هېوادونه یا وروسته پاتې هېوادو خلک تر خپل استعمار لاندې راولي (الموسوعة الميسرة ص 159)

تبشیر

تبشیر په عربی ژبه کې زېرې ورکولو ته وایي داسې زېرې او خبر چې د انسان په طبیعت کې تغیر راولي هغه که ښه وي او که بد د تبشیر په نوم یادیږي.

ولې د مسیحیانو په نزد تبشیر د مسیحیت یرغل او حمله کول پر نورو ادیانو باندې په ځانګړې ډول په اسلام باندې حملې ته تبشیر وایي، یا د مسیحیانو په اصطلاح د مسیح ددی ښه خبر رسول خلکو ته چې ګواکې هغه پروردګار د هغوی دی او عبادت یې لازم دی . د یادولو وړ ده چې د تنصیر او تبشیرهدف یو دی (التنصیرفي البلاد الأسلامیة ص 15،التنصیرمفهومه واهدافه ص 40)

مسیحیت

مسیح د عیسیٰ علیه السلام نوم دی چې پیروان یې ځانونو ته مسیحیان وایي، ویل کیږي چې عیسی علیه السلام ته ځکه مسیح وایي چې هغه به کله په ناروغ لاس کش کړ د الله (جل جلا له) په حکم به هغه ناروغ جوړ شو او یا ځکه مسیح ورته وایي چې د ځمکې پر مخ یې ډیر سیاحت کړی دی . او مسیحیان وایي چې عیسی علیه السلام ځکه د مسیح په نوم یادیږي چې هغه یواځنی کس دی چې په دې دنیا کې یې د خدمت او سرښندنې قدم ایښی(. المفردات للاصفهانی ص 468 – قاموس کتاب مقدس ص 860)

نصرانیت

د نصرانیت د اصطلاح اطلاق هم د عیسی علیه السلام په پیروانو کیږي.

عیسیٰ علیه السلام د بنی اسرائیلو لپاره مبعوث شوي ؤ او د انجیل کتاب وربانديې نازل شوي ؤ هغه خلک د الله (جل جلا له) وحدانیت ته رابلل خو ورسته د وخت په تېریدو سره انجیل تحریف شو اصلی نسخه یې ورکه شوه چې بلاخره انجیل د شرک اوبت پرستی له عقایدو سره ګډ شو او آسماني منزلت یې له لاسه ورکړ(الموسوعة المیسرة 499)

استشراق (خاور پېژندنه)

د استشراق کلمه د یهودو، نصاراؤ او نورو غربي علماؤ څېړنې او تحقیقات د ختیځ استوګن (خاورمیانه) د مسلمانانو د دین، کلتور او ټولنیز حالت باندې اطلاق مومي.

استشراق له هغه وخت څخه راپیل شو چې کله د اسلام د فتحې کاروان د اروپا تر دروازو پورې ورسید.

هغه وخت مسلمانانو د یو واحد خلافت او یوې اسلامي نړۍ بنه لرله چې هغه وخت مسلمانان په علمي، اقتصادي او ټولنیز لحاظ پرمختللي وو.

اروپا هغه وخت د جهل، بې علمۍ اوغفلت کې یو شاته پاتې ژوند تیرولو، چې وروسته یې د مسلمانانو په اړه څېړنې پیل کړې تر څو په دې پوه شي، چې مسلمانانو دا ستر عظمت او پرمختګ په څه ډول لاس ته راوړی دی.

همدارنګه صلیبي لښکرو په ټول توان سره دوه سوه کاله د اسلام پرضد وجنګیدل ترڅو اسلام له مینځه یوسي خو بې له سختې ماتې او سختو درنو تلفاتو بل څه په لاس ورنغلل.

نوځکه وروسته پدې لټه کې شول چې د جنګ له لارې خو څه ونه شول نو یې دا تصمیم ونیولو چې یو شمیر پوهانو ته دنده وسپاري تر څو اسلام د ننه څخه مطالعه کړي په فریب او مکر سره خپله حقیقي څهره پټه او د ننه په مسلمانانو کې تخریب وکړي په دوی کې د نفاق اور بل کړي او په زړه کې یې شکونه ور واچوي تر څو کمزوري شي او بلاخره د دوی د شوم او باطل دعوت او استعمار لپاره لاره هواره شي (التنصیرفی البلاد الاسلامیة ص 39)

د مسیحیت عقیده

الله (جل جلا له) حضرت عیسیٰ علیه السلام بنـی اسرائیلـو تـه د ښـکاره نښـانو او انجیل کتاب سره ولیږو تر څو خلک د الله (جل جلا له) آسانه،او د هر ډول تحریف او کږوالي نه پاک دین ته را وبولي حضرت عیسیٰ علیه السلام خلک د یو الله (جل جلا له) عبادت او بنده گی ته رابلل مگر د عیسیٰ علیه السلام لـه دورې وروسـته انجیل تحریف شو اوس مسیحیت په یـوه باطلـه عقیـده او پیچیـده فلسـفه بانـدې بدل شوي دی چې د خپلو پیروانو څخه یې هـم لاره ورکـه ده اوهغـوی یـې پـه دوو کې حیران کړي دي.

هغوی د حضرت عیسیٰ علیه السلام په ستاینه کې دومره افـراط وکـړ چـې د بنـده گی نه یې د خدایی تر پولې ورساوه چې عیسیٰ علیه السلام د الله (جل جـلا لـه) زوی بولي (العیاذ باالله)

نو دا به کوم عقل ومني چې د بی بـی مریمـې زوی دې العیـاذ باللـه د خـدای (جـل جلاله) زوی شي هغه خدای (جل جلاله) چې :[لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ، وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ] ذات دی.

دا خو د خدای (جل جلاله) د قدرت نښانې دي چې آدم علیه السلام یې بې پلار او مورہ پیدا کړ، بی بی حوا یې بې مورہ پیدا کړه او مسیح علیه السلام یې بـی پـلاره پیدا کړ.

اوهمدارنگه مسیحیان بی بی مریم رضی الله عنهـا د خـدای مـور بـولي تـر داسـې اندازې د مریم تقدس کول چې په ځنو کلیساوو کې یې د بې بې مریمـی مجسـمې جوړې کړې او د خپلو احتیاجاتو لپاره ورته سر ټیټوي .

په همدې وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل امت په ستاینه کـې لـه افـراط څخه منعه کړي دی لکه چې فرمایی : زما له حده زیات صفت مه کوئ لکه نصـاراوو

چې د مریمې زوی له حده زیات و ستایلو زه یو بنده یم پس ووایئ بنده او رسول د الله (بخاری او مسلم)

اوسنی مسیحیت په دریو بناوو ولاړ دی:

1- د تثلیث عقیده یا دریګوني خدایان

2- صلیب (په دار ځړول شوی) او د هغه تقدس او د مسیح قرباني

3- د قیامت په ورځ دعیسیٰ علیه السلام له خلکو سره حساب کول

1- د تثلیث عقیده:

مسیحیان خو په لوی خدای (جل جلاله) عقیده لري ځکه اهل کتاب دي ولې له خدای (جل جلاله) سره شریک نیسي عیسیٰ (زوی) او روح القدوس (جبرئل) له هغه سره شریکوي او په دې مسئله کې ټول مسیحیان په یو نظر نه دي بلکې د دوی د کلیساوو ترمنځ اختلاف دی(الموسوعة الميسر ص 503)

یوه فرقه یې په دې عقیده ده چې مسیح علیه السلام انسان دی او بله ډله یې بیا وایي :پلار،زوی او روح القدوس له دریو مختلفو شکلونو یې خدای ترسیم کړي ظاهراً خلکو ته خدای یادوي ولې په اصل کې یې له خدای نه هدف پلار،زوی او روح القدوس دي ؟

زوی (مسیح) له خدای (پلار) او د روح القدوس (جبریل) په توګه د مریمې بدن ته انتقال شوی دی او د ښځې په ځیرځرګند چې وروسته عیسیٰ علیه السلام ترې پیدا شوي دی (العیاذ باالله)

یوه بله ډله یې وایي زوی د پلار په څیر ازلي نه دی بلکه مخلوق دی د نورو مخلوقاتو په څیر او د پلار نه په لاندې درجه کې وي چې د پلار د اوامرو تابع وي.

بله ډله یې چې د نیقیه ټولنې په نوم په 325 میلادي اود قسطنطینیه غونډې په کال د 381 میلادي کې دا تصویب کړه چې زوی او روح القدوس په الوهیت کې له

پلار سره مساوي دي زوی په ازل کې له پلاره څخه پیدا شوی دی او روح القدوس له پلار څخه څرګند اوځلیدلی دی.

د طلیطله په نوم یوې بلې ډلې په 589 میلادي کال کې دا تصویب کړه چې روح القدوس له زوی څخه مینځ ته راغلی دی (خصائصه التصور الاسلامي ص 31)

د مطلب خلاصه:

الف : د شرق اوغرب کلیساوی په یوه نظر نه دي بلکې دوی په خپل منځ کې اختلافات لري چې تر ننه دوام لري.

ب : ددې دین تغیر او تحریف د دوی په خپل لاس کې دی خو د تحریف او تغیر لپاره کومه واحده مرجع اوځای هم نه لري.

ج : دوی په خدای (جل جلاله) ایمان لري ولی په تثلیث هم ایمان لري چې تثلیث مخکې بیان شو چې هر یو ځانته خصوصیت لري یو له بله فرق لري خو دوی یې دری واړه یو اصل یو جوهر بولي په قوت کې یې هم برابر بولي دا یوعجیبه حیرانکونکی نظریه ده!!

که عاقل انسان په دې عقایدو کې ښه فکر او سوچ وکړي په دری ذاتونو عقیده لري اوهر یو جلا جلا ځانګړتیاوې او خصوصیات لري چې یو له بله توپیر لري او د وحدانیت مسئله هسې یوه دعوی ده چې هیڅ صحیح وضاحت نه لري ځکه هغوی وایي : دری اصله یو دی لکه 1=1+1+1 چې هیڅ عاقل دا نشي قبلولای.

لنډ دا چې هغوی دری خدایان لري او د یوه خدای تر پوښښ لاندې یې خلکو ته وړاندې کوي او وایي : (مونږ د یوه خدای لمانځنه کوو) د خلکو سترګو ته خاورې ورشندي.

په همدې وجه قرآنکریم د دوی ګمراهي داسې بیانوي:

[يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لاَ تَغْلُواْ فِي دِينِكُمْ وَلاَ تَقُولُواْ عَلَى اللّهِ إِلاَّ الْحَقِّ إِنَّمَا الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ رَسُولُ اللّهِ وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِّنْهُ فَآمِنُواْ بِاللّهِ وَرُسُلِهِ وَلاَ تَقُولُواْ ثَلاَثَةٌ انتَهُواْ خَيْرًا لَّكُمْ إِنَّمَا اللّهُ إِلَهٌ وَاحِدٌ سُبْحَانَهُ أَن يَكُونَ لَهُ وَلَدٌ لَّهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ وَكَفَى بِاللّهِ وَكِيلاً](النساء 171) .

ژباړه : ای اهل کتابو! پخپل دین کې افراط مه کوئ او الله ته له حق ویلو پرته بل هیڅ خبره مه منسوبه وئ یقیناً چې عیسیٰ زوی د مریمې دی له دې پرته چې د الله رسول او فرمان ؤ نور څه نه ؤ چې الله مریمی ته ولیږو چې د الله له لوري یو روح ؤ چې د مریمې په رحم کې یې د ماشوم بڼه غوره کړه . نو تاسې په الله او ټولو پیغمبرانو ایمان راوړئ او مه وایی چې خدای درې دی، منعه شی (له دې عقیدې څخه ځان وساتی) دا همدا تاسې لپاره ډیره ښه ده او الله خو همدا یو دی هغه لدې پاک او لوړ دی چې د هغه لپاره کوم څوک زوی ووسي د آسمانو او ځمکو ټول شیان د هغه ملکیت دی او دهغه د ځارنې او ساتنی لپاره همغه کافي دی.

دا وه د مسیحیت د تثلیث مبهمه (ګونګه) عقیده چې کوم قانع ځواب نه لري چې مسیحیان یې په دوو لارو کې حیران کړی دي.

اوس له زرګونو هغو قیصوڅخه، کوم چې مسیحیانو په اسلام باندې خپل زړونه بایللی دی یو قیصه ستاسو په خدمت کې بیانوم:

راجین هولد شوارش د پولنډ هېواد دپرستانت د کورنۍ په مذهب پورې اړوند ؤ اوس په اسلام مشرف شوی خپله قیصه داسې بیانوي:

ما له وړوکتوب نه د دیني اومذهبي مسائلو سره علاقه لرله نو لومړی مې د کلیساوو دعقایدو مطالعه پیل کړه ولې څه مې چې زده کړل قناعت لرونکی نه ؤ ځکه زه ونتواندلم د تثلیث (دری خدایان) په مسئله پوه شم، او کلیسا هم پدې اړه کوم قانع ځواب نه لرلو.

او په ذهن کې مې داسې سوالونه راګرځيدل چې ولې عيسیٰ عليه السلام د خدای (جل جلاله) زوی بلل کيږي . په داسې حال کې چې د يوحنا انجيل په اوم سِفر کې وايي (زه ددی توان نه لرم چې پخپله کوم کار ترسره کړم) او د انجيل متّی اوم سِفر بيا وايي (ای خلکو! د پروردګار موعبادت او اطاعت وکړئ هغه رب چې واحد لا شريک دی)

چې په دې اړه مې د مسيحيانو له علماؤ سره مناقشې وکړې خو دوی ونتوانېدل قانع ځواب راکړي .وروسته مې د هندويي او بودائي او ځينو نورو اديانو مطالعه وکړه خو په هريو کې يې په سلګونو خدايان وو زړه مې په هيڅ يوه باندې آرام نشو ترڅو مې د اسلام په باره کې يو کتاب ترلاسه کړ چې د اسلام په اړه مختصر- معلومات پکې ليکل شوي ؤ وروسته مې تصميم ونيو چې د اسلام په اړه کافي معلومات تر لاسه کړم همغه ؤ چې مسلمان ملګري مې پيدا کړل او له هغوی نه مې د اسلام په باره کې معلومات وغوښتل هغوی ماته زيات کتابونه راکړل ترڅو مې زړه آرام شو او ټول ورک شوي مې پيدا کړل .(لماذا اعتنقت الاسلام ص 1)

دا ؤ د تثليث عقيدې لنډ بيان چې عقل سليم يې له سره نشي منلی.

2- د صليب عقيده يا د مسيح په دارځړول او د هغې مقدس ګڼل:

د صليب نښان د مسيحيانو شعار دی او هغه مقدس ګڼي هغوی عقيده لري چې مسيح د دوو متقاطع لرکيو په وسيله په دار ځړول شوی دی دا چې ولې په دار وځړول شو هغوی يې داسې بيانوي : مسيح عليه السلام د انسانانو د پلار ادم عليه السلام دهغه ګناه د کفارې او جبران د پاره چې د کومې ميوې ورته د نه خوړولو حکم شوي ؤ هغه يې و خوړه چې په دې سره يې ګناه اولاد ته نقل شوه چې ددې په وجه سره الله (جل جلاله) د آدم ټولې اولادې ته په قهر دی نو ځکه

واسطه او د خلاصون لاره په کار ده چې دا ګناهونه پورته کړي او خپل ځان د ټولو نه قربان کړي او خدای (جل جلاله) راضي کړي.

دا فداکارعیسیٰ علیه السلام ؤ چې خپل ځان یې قربان کړ او په دار وځړول شو (دراسات في الادیان ص 304)

دا چې چا په دار وځړولو د انجیل په کتابونو کې یې داسې بیان شوی : مسیحیان په دې عقیده دي چې عیسیٰ علیه السلام یهودیانو په قتل ورساوه، د جُمعې په شپه یې ونیو او د یوه یهودی کاهن کور ته یې نقل کړ چې د تحقیق نه وروسته په محکمه کې په هغه د اعدام حکم صادر شو وروسته یې د رومیانو د یوه ولایت د مرکز په لوري یوړ او هلته یې په دار وځړولو او د شپې په وخت یې له دار نه کوز کړ او په قبر کې یې کیښود خو دوې ورځې وروسته چې قبر ګوری قبر خالی دی همغه ؤ چې څلویښت ورځې وروسته خدای (جل جلاله) هغه آسمان ته پورته کړ،مګر دا قیصه د انجیل په کتابونو کې په مختلفو ډولونو ذکر شوي ده چې دلته نه ځایږي .(دراسات في الادیان ص 306)

اصلی حقیقت څه دی:

عیسیٰ علیه السلام چې خلکو ته یې د الله (جل جلاله) د توحید بلنه کوله او د بت پرستۍ شرک او باطو اعمالو څخه یې خلک منع کول څرنګه چې ددی ټولو ترک د یهودیانو د پاره سخت ؤ نو د عیسیٰ علیه السلام په وړاندې را ولاړ شول او د هغه د قتل تصمیم یې ونیو ولې الله (جل جلاله) عیسیٰ علیه السلام د یهودو له مکر نه خلاص کړ او آسمان ته یې اچت کړ لقوله سبحانه تعالی :

[وَبِكُفْرِهِمْ وَقَوْلِهِمْ عَلَى مَرْيَمَ بُهْتَانًا عَظِيمًا، وَقَوْلِهِمْ إِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيحَ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُولَ اللَّهِ وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَكِن شُبِّهَ لَهُمْ وَإِنَّ الَّذِينَ اخْتَلَفُواْ فِيهِ لَفِي

شَكٍّ مِّنْهُ مَا لَهُم بِهِ مِنْ عِلْمٍ إِلاَّ اتِّبَاعَ الظَّنِّ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًا، بَل رَّفَعَهُ اللّهُ إِلَيْهِ وَكَانَ اللّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا] (النساء 156-158) .

ژباړه : بیا هغوی په خپل کفر کې دومره پرمختګ وکړ چې په مریم یې غټ بهتان ولګاوه، او پخپله یې وویل چې مونږ د خدای رسول عیسی زوی د مریم وژلی دی حال دا چې د واقعیت له مخې نه هغوی وژلی او نه یې په دار ځړولی دی بلکی موضع د هغه لپاره تشبه وګرځول شوه او کومو خلکو چې د هغه په باب اختلاف کړی دی هغوی هم په اصل کې په شک کې لویدلي دي له هغوی سره پدې اړه علم نشته صرف د ګمان پیروي ده.

هغوی په یقنی توګه عیسی نه دی وژلی بلکي عیسی الله تعالی خپل لوري ته اوچت کړی الله ډیر زیات زورور او د حکمت څښتن دی.

3- د قیامت په ورځ به عیسی علیه السلام له خلکو سره حساب کوي:

مسیحیان په دې ګمان دی چې د حشر- په ورځ به عیسی علیه السلام د خلکو حساب کتاب په خپل لاس کې اخلي .(دراسات في الاديان ص 333)

مګر د مسلمانانو عقیده دا ده چې الله (جل جلاله) د قیامت د ورځې واکمن دی او بس هغه (جل جلاله) به حساب کوي

هر یو پیغمبر به په خپل امت شاهد وي.

مګر د مسیحیانوعقیده یو خیال دی ځکه عیسی علیه السلام به د نورو ټولو پیغمبرانو په څیر د حشر په میدان کې ولاړیږي، بلکي الله (جل جلاله) به حضرت عیسی علیه السلام په دې اړه داسې پښتي :لقوله سبحانه وتعالی :

[وَإِذْ قَالَ اللّهُ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ أَأَنتَ قُلتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَـهَيْنِ مِن دُونِ اللّهِ قَالَ سُبْحَانَكَ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أَقُولَ مَا لَيْسَ لِي بِحَقٍّ إِن كُنتُ قُلْتُهُ فَقَدْ عَلِمْتَهُ تَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِي وَلاَ أَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِكَ إِنَّكَ أَنتَ عَلاَّمُ الْغُيُوبِ] (المائده 116).

ژباړه : کله چې الله وفرمایي ای عیسیٰ زوی د مریمې ! آیا تا خلکو تـه ویـلي ؤ چـې له الله پرته ما او زما مور په خدایی ونیسـئ، نوهغـه بـه پـه ځـواب کـې عـرض وکـړي سبحان الله زما دا کار نه ؤ چې هغه څه مې ویلي وای چې ویل یې زما حق نـه ؤ کـه ما داسې خبرې کړی وي نو ته به هرو مرو پرې عالم وې ته پوهیږي په هغه څه چې زما په زړه کې دي او زه په هغه څه نه پوهیږم چـې سـتا پـه زړه کـې دي تـه خـو پـر ټولو حقایقوعالم یې.

مسیحیت ته دعوت

د مسیحي داعیانو مهم اهداف:

ځرګنده ده چې د انسانانو ترمنځ عقیدوي روابط یو لـه قـوی روابطـو څخـه شـمېرل کیږي نو په همدې وجه مسیحیان کوښښ کوي تر څو مسلمانان خپل ځانته جلـب کړي د هغوی په زړونو کې دوسـتي او محبـت ځـای کـړي ځکـه چـې د هېوادونـو د اشغال لپاره دا یوه قوی او کټوره وسیله ده سختو مرګونو جګړو او زیاتو مصـارفو تـه هم ضرورت نه لري، هغوی درک کـړې ده چـې لـه دې لارې پـه آسـانۍ سره کـولای شي د مســلمانانو شــتمنۍ لــوټ کــړي، د فاســدو،بې لارې او شــهوت پرســتو سیاستمدارو په وسیله د مسلمانانو وحدت لـه منځـه یـوسي او پـه تعلـیم او نصـاب کې یې مستقیمه مداخله وکړي تر څـو د دیـن دوسـتی روح او د اسـلام محبـت لـه ریښو وباسي.

ددی شومو اهدافو د تر سره کولو وروسته بیا د مسـیحي دعـوتګرو لپـاره د دعـوت لاره هواریږي او بیا خپلو فعالیتونو ته په منډه پراختیا ورکولای شي.

مونږ به ان شآء الله په لنډ ډول د مسیحي دعوتګرو لنډ مهاله او اوږد مهاله اهداف تاسې ته بیان کـړو الـله (جـل جلالـه) دې وکـړي د مسـیحیت د خپریـدو او نشـر د

مخنیوي په لاره کې ددې خطرناکو زهرو چې غـواړي د ځینـو سسـتو، ضـعیفو او د خپل دین څخه نا خبرو مسلمانانو په رګونو کې ورپیچکاري کړي ګټور تمـام شي او زمونږ مسلمانان ورونه بېدار شي چې دوښمن د شاتو(عسـل) پـه نـوم زهـر وړانـدې کوي.

دا موخې او اهداف په لاندېډول دي:

1- اسلام ته د مسیحیانو د ور مایل کېدو مخنیوی کول په خاصه توګه هغـو هېـوادو کې چې هلته د مسیحیانو شمیر زیات وي.

2- اسلام ته د نورو امتونو د داخلیدو مخنیوی کول او د اسلام د خپریدو او نشر- پـه وړاندې درېدل د هغه مخه نیول تر څو د هغـه ځـای مسـیحیت ونیسي- او دوی باطل میراثي عقاید باقي وي.

3- د مسلمانانو یا ځینو مسلمانانو له اسلام څخه ایسـتل او کوښـښ کـول تـر څـو د مسلمانانو په زړونو کې شک واچـوي او د هغـوی لـه خپـل پروردګارڅخـه اړیکـه پریکول او غوڅول، دا یو اوږد مهاله هدف دی

4- داسې څرګندونې چې ګواکې مسیحیت تر ټولو غوره دین دی.

5- د اسـلام پـه بنسـټیزو امـورو کـې د شـک او تردیـد تخـم تیتـول تـر څـو سسـت (کمزوری) ایمان واله او د دین څخه نا خبره خلک په شک کې ولویږي.

6- داسې تبلیغات کول چې ګواکې په مسیحیت باندې منګلې لګول د پرمختـګ او ترقي عامل دی او د مسلمانانو د شاته پاتې کیدو عامل د هغوی دینداري ده.

مګر د غرب بې دینه او ملحـد خلـک پـه دې عقیـده دي چـې ترقـي او پرمختـګ د مسیحیت په پریښـودو کـې دی ځکـه د مسـیحیت تحریـف شـوی سـاختګی دیـن دعلم او علمي څېړنو مخالف ؤ او د کلیساؤ علمبردارانو د هغه وخـت لـوی سـاینس پوهان چې ساینسي نظریات یې د کلیسا سره په ټکر کې ؤ اذیت او قتل کړل.

مګر برعکس اسلام د علم دین دی د قرآنکریم نـزول پـه (اقْـرَأْ وَرَبُّـكَ الأَكْـرَمُ، الَّـذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ، عَلَّمَ الإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ)

ژباړه : ولولـه اوستا پروردګا ډیر کریم دی هغه د قلم په مرسته انسان ته علم وښود، انسان ته یې هغه علم ورکړ چې هغه پرې نه پوهیده.

د لیک اولوسول په بیانولو پیل شوی دین اسـلام خپـل پـیروان همیشـه د علـم زده کړې ته هڅوي لکه چې د اسلام ستر لارښود حضرت محمد صلی الله علیـه وسـلم فرمایي : له زانګوڅخه تر قبره د علم په زده کړه کې واوسئ.

په اسلام کې علماء او ساینس پوهان لـوړ مقـام لـري هېڅکلـه داسـې نـه دی شـوي چې علمی څېړنې دی له اسلام سره په ټکر کې راشي.

بلکی څه چې پخوا اسلام د انسان لپاره منع ګرځولې او څه یې چې حلال ګرځولې هغه نن په ساینسی څیړنو کې داسې رښتینې ثابتیږي او سـاینس داسـې د اسـلام په کرښه ور روان دی چې ته به وایې دا هرڅه یې له اسلام څخه غلا کړي دی.

7- دوی غواړی سپین پوستکی او غربي خلک په نـورو بانـدې غـوره وګرځـوي او پـه دی سره اشغال ته لاره هواره کړي او د خلکو په شتمنی خپله خپټه واچوي.

8-غـواړی مسـلمانان لـه خپلـو اسـلامې اخلاقـو او آدابـو واړوي د هغـه پـه ځـای خپلوعاداتو او تقالیدو ته یې تشویق کړي ترڅو وروسته د دوی د اهـدافو لپـاره په تطبیق کې آساني مینځ تـه راشي. (التنصـیر:مفهومه واهدافـه ووسـایله ص 45-49 والتنصير في البلاد الاسلامي ص 16-18)

د مسیحیت د یوه مشهور دعوتګربیانیه:

دغـه مشـهور دعـوتګر د بیـت المقـدس پـه ښـار کـې پـه کـال د 1935 د مسـیحي دعوتګرو یوه کنفرانس ته چې نوم یې صمونیل زویمر دی د مسحیت مهـم اهـداف داسې بیانوي:

ګرانو وروڼو! څوک چې خدای د مسیحیت د لاری جهاد او د اسلامې هېوادونو د استعمار لپاره غوره کړي دي په خپل توفیق او مهربانۍ یې کامیاب کړل.

تاسې ته چې کومه دنده در سپارل شوې وه هغه مو په پوره اخلاص سرته ورسوله او لویه کامیابي مو تر لاسه کړه که څه هم په دې پوره یقین لرم چې تاسې خپله دنده په پوره مهارت ترسره کړې مګرځینو له تاسې څخه د خپلې دندې آساسي او بنیادي اهداف لاهم صحیح نه دي درک کړي او پېژندلی.

زه پدې خبره تاسې ته اعتراف کوم چې هغه مسلمانان چې د مسیحیت طرف ته مایل شوي دي ریښتني مسلمانان نه دي او له دریو ډلوڅخه خالی نه دي یا دا چې کم عمره دي چې خپلې کورنۍ یې اسلام نه دی ورښودلی یا هم دیانت یې یوه هوایي مسخره فرض کړې هغه له دې لاری ځان ته د یوې لمړۍ(ګولې) ډوډۍ برابرولو کوښښ کړی ځکه چې هغه فقر او لاس تنګۍ دې کار ته مجبور کړی او یا داسې کسان دی چې ددې لارې څخه خپل شخصي اغراض او اهداف پوره کوي.

مسیحي هېوادونه چې تاسې د مسیحیت د دعوت لپاره اسلامي هېوادونو ته لیږي د مسلمانانو د مسیحی کولوغوښتونکی نه دي ځکه په دې کار کې د دوی عزت،کرامت اوهدایت دی.

بلکی د تاسې دنده د اسلام څخه د مسلمانانو ایستل دي تر څو د دوی رابطه له الله (جل جلاله) سره پرې یا غوشه شي همدارنګه له هغو اخلاقو او فضائلو چې ملتونه وربانديې اتکاه لري لرې شي.

له همدې وجې تاسې د اسلامي هېوادونو د استعمار د فتحی لومړني فاتحان یاست.

یقیناً چې خپله دنده مو په ښه ډول تر سره کړې بریالیتوب مو مبارک شه، همدارنګه مسیحي هېوادونه او ټول مسیحیان ستاسې لاس ته راوړنو ته مبارکي وایي.

ورونو! وروسته له نولسمې پیړۍ څخه ترننه مونږ پدې وتوانېدو چې د ټولو خپلواکو اسلامي هېوادونو او د هغوهېوادونو چې د مسیحیت تر نفوذ لاندې دي او هغه هېوادونه چې حکمرانان یې مسیحیان دي په قبضه کې راولو او په دغه هېوادونو کې د مسیحیت کمپونه، ټولنې اوکلیساوی جوړی کړو.، همدارنګه هغه ښونځی چې د اروپایي او امریکایي هېوادونو تر څارنې لاندې دي مهمې تګلارې او پروګرامونه مو پکې پلي کړی دي.

تاسې ته لدې املې درناوی اوتقدیر وړاندې کیږي، چې د ډېروکمو وسائلو او امکاناتو په لرلو سره پدې وتوانېدی چې د اسلامې هېوادونو ټول عقل او فکر ځان ته جلب کړئ او په خپل خط سیر چې مخکې مو چمتو کړی برابر کړئ او تاسې داسې نسل تیار کړی چې له خدایه لري وي او دوی به هیڅکله وتوانیږي له خدای سره رابطه ټینګه کړي.

تاسې مسلمانان له اسلام څخه ایستلي خو په مسیحیت مو نه دي مشرف کړي په دې ترتیب سره مو داسې نسل برابر او چمتو کړی چې استعمار د هغه په انتظار کې دی، داسې نسل چې د سختۍ په وړاندې مقابله نشي کولای، بې پروا،راحت طلبه اوټمبل دی کچیرې کوم لوړ مقام او مرتبه تر لاسه کړي د عیش او شهوت پرستۍ له کبله کومه د ځوانمردۍ سخا نلري.

بې شکه چې خپل ماموریت مو په ښه توګه پرمخ بوولی نو ځکه مو لویې لاس ته راوړنې او بریاوې لاس ته راوړې.

تاسې ته ټول مسیحیت مبارکی وړاندې کوي څنګه چې استعمار له تاسې خوښ او خوشحاله دی نوخپل مقدس رسالت مو پرمخ بیایئ تاسې ددې مبارک جهاد په فضل او برکت دا لوړه درجه تر لاسه کړی اوخدای له تاسې راضي دی .(دراسات في الادیان ص 381-383)

وګورئ دوی پدې ډول زشتو او پستو اهدافو او وسائلو د دوستۍ خواخوږۍ او د بې وزلو سره د مرستې ترعنوان لاندې اسلامي هېوادونو ته داخلیږي خلکو ته د شاتو په نوم زهر ورکوي او دلته خپل شیطانت ترسره کوي د شیطان دنده پرمخ بیایي چې مخلوق له خپل رب څخه جلا کوي.

مسیحیت ته د دعوت وسایل

پخوا له دې چې مسیحیت ته د دعوت وسائل وپېژنو باید پوه شو چې هغوی په دې کار کې له دوه لارو مخکې ځي : یو ښکاره او بربنډ وسائل دي او بل د عامو خلکو له نظر نه پټ وسائل دي

اوهمدارنګه له لویوعصري وسائلو څخه چې نړیوال هم ورسره بلد دي کار اخلې شاید عصري وسائلو ته زیات اهمیت ورکړي.

د مسیحیت داعیان ټولې لارې او چارې تجربه کوي نظر ځای او وخت ته تغیر ورکوي .

مسیحیت ته د عوت ښکاره وسایل په لاندې دوو برخو ویشل شوی دي:

- مسیحیت ته د مسلمانانو رابلل د مناقشې او مناظرې لارې یا د مقابل لورې په اساسی عقایدو کې شک وراچول.

- صلیبی جنګونه، د څېړنې محاکم، د بحري لارو د ماشومانو اختطاف او غلا کول، او د هغو مسلمانانو له منځه وړل چې د دوی د دعوت مانع ګرځي او د اسلامې هېوادونواشغالول.

همدارنګه ډېرې مسیحي مؤسسې اوټولنې دي چې په ښکارهډول کار کوي البته د غربي هېوادونو په مرسته جوړې شوی دي .

هغه مؤسیسات او ټولنې چې د مسیحیت د دعوت لپاره جوړې شوی له 30 زیاتي دی چې له 1765 نه تر اوسه په مختلفو هېوادو کې د مسیحیت په دعوت اخته دي د ټولو بیان دلته نه ځایږي که غواړی په تفصیل سره یې مطالعه کړئ زمونږ د همدې رسالې مراجعو ته مراجعه وکړئ.

مګرمسیحیت ته د دعوت هغه وسایل چې په پټ ډول د پردې تر شا کار کوي په لاندیډول دي:

1- د ډیپلوماتیک پلاوي:

چې د غربي هېوادو لخوا اسلامې هېوادو ته استول کیږي او هغه مؤسیسې او کمپنۍ چې په اسلامې هېوادو کې په کار بختې دي د مسیحیت داعیان له دې موقع نه استفاده کوي او په غیر مستقیم ډول مسلمانان مسیحیت ته دعوتوي یا لږ تر لږه د دوی په زړونو کې خپله د فریب او مکر ډکه دوستي ننباسي.

2- کاشفین:

د جغرافیه کاشفین له غربي پوهنتونو څخه اسلامي هېوادو ته استوي چې مسیحي دعوتګر له دې لارې هم استفاده کوي.

3- طبابت:

طبي پلاوي په دې نامه چې مونږ له بې وزلو او فقیرو خلکو سره مرسته او د هغوی درملنه کوو اسلامې هېوادو ته لږې هغوی په لومړي پړاو کې کلینکونه او

روغتونونه جوړوي او وروسته په تدریج سره په پوره مهارت سره خلک مسیحیت ته رابولیبا دعوتوي.

4- د کسب اوهنر زده کړه:

غربي موسیسات د ټولنې ځوانان د کسب اوهنر د زده کړې په نوم جلبوي او تر نظارت لاندې یې نیسي وروسته له دې لارې دعوت پر مخ بیایي.

5- لوړې زده کړې:

اسلامي هېوادو ته تعلیمي پلاوي لیږي تر څو پوهنتونونه او فاکولټي جوړې کړي او یا پدې برخه کې څه مرسته وکړي چې وروسته د دغوعلمي مؤسیساتو له لارې د ځوانانو ذکي خلک جلب او تر نظارت لاندې نیسي. چې په آینده کې یې مهم منلی او درانه خلک معرفي کړي او لوړ پوستونه ورکړي چې بیا یې د اسلام او مسلمانانو پروړاندی د خپلو اهدافو د پلي کولو لپاره وکاروي.

6-هغه مؤسیسات چې د مرستې اوهمکاری په نوم فقیر او لاس تنګو هېوادو کې فعالیت کوي:

دغه موسیسات په اسلامي هېوادو کې د اړو خلکو سره د جامو،خوراکي موادو او خیمو او نورو مرسته کوي او دوی ته وایي دا نعمت د عیسیٰ له لوری پر تاسې لورول شوی دي او یا په کنایه اوغیر مستقیم ډول تر څو یې پټ رازونه خلکو ته ښکاره نشي خپل زهر په خلکو کې شیندي.

7- د ښځو ښکار:

د مسیحیت دعوتګرو دا درک کړې ده چې ښځه کولای شي چې اولاد،کورنی او خپل ملګري باندې مستقیم اغیز لرلای شي نوځکه دوی ډیرکوښښ کوي تر څو لومړی ښځې له اخلاقو او اسلامې دایرې وباسي او وروسته یې د بې حجابی کوښښ کوي.

هغوی مختلف کورسونه په مختلفو نومونو په کلیو او ښارونو کې جوړوي داسې کسبي اوحرفوي کورسونه چې زده کړه یې په ښځو پورې هیڅ اړه نه لري او په ځینوهغوځایونو کې چې څه نا څه‌خپل هدف ته رسیدلی وي د رقص او موسیقی د زده کړي کورسونه جوړوي.

دښځو د حقوقو او مساواتو چیغې او نعرې خو یې ډیري ټودې دي هره ورځ یې د رسنیو لیارې خپروي تر څوښځه په سیاسي او ټولنیزو چارو کې پوره ونډه واخلي ځکه دوی دې نتجي ته رسیدلي چې ښځه د مسیحیت د اهدافو لپاره یو ډیرښه ښکار او لامل کیدای شي.

8- متخصصین او ګارګر:

هغه کارګر او متخصصین چې په طب، ساینس او تکنالوجي او نورو برخو کې کار کوي د مسیحیت د دعوت لپاره بنسټیز رول لوبوي ځکه د دوی له خلکو سره سروکار وي او په تدریج ضعیف او بې علمه خلک په خپل دام کې ښلوي.

9- تعلیمی کورسونه:

هغه زده کونکي چې د زده کړې لپاره غربي هېوادونو ته لیږل کیږي د مسیحیت لپاره یو ښه ښکار وي خصوصاً مسلمانان زده کونکی دوی داسې پروګرامونه په کار اچولی دي چې ځینې مسیحیان ورته میلمستیاوې کوي خپلو کورونه ته یې بیایي او یا یې د کلتوري او اجتماعي کنفرانسونو لپاره کلیساؤ ته دعوتوي یا د کلیسا لخوا ورسره مرسته کیږي، همدارنګه د پوهنتون په چاپیریال کې مسیحي دعوتګرګرځي کوښښ کوي له دوی سره رابطه ونیسي نوهغه زده کوونکی چې له خپل دین نه معلومات نه لري په آسانه توګه منحرف کوي.

10- دغربي او اسلامې هېوادو ترمنځ د کلتور او فرهنګ تبادله:

دغربي او اسلامي هېوادو ترمنځ د کلتور او فرهنګ تبادله د مسیحیت د دعوت له مهمو وسیلو څخه یوه وسیله شمیرل کیږي.

په دغه کلتوري تبادله کې د خلکو رواجونه، د نـر او ښـځو جـامې، خـوراکي تـوکي، رقص اوموسیقي او نور شامل دي او یا د ځینو کتابونو او رسالو ویشل چـې پـه هغـه کې یې خپل اهداف ذکرشوی وي، یا فرهنګي مجلسونو او غونډې جوړول ترڅو لـه دې لارې خلک دعوت کړي یا خپل پوچ او ناولی فرهنګ په خلکو کې تیت کړي.

11- خبري وسایل او رسنۍ:

خـــبري رســـنۍ پراســـلام د مســـیحیت د حملـــې او یرغـــل لپـــاره لکـــه رادیو،تلویزیون،سینما او انټرنیټ پانې تر ټوله مهمه او فعاله وندې لري.

د دغه رسنیو په فلمونو،سریالونو او نورو پروګرامو کـې د هغـوی مـذهبی شـعارونه، تقالید،کلتور،اصطلاحات او حرکات مهم رول لري.

(التنصير 57-94، دراسات في الاديان ص379، والتنصير في البلاد اسلامي ص 17-28)

نن یې زمونږ په هېـواد کـې هـم هرچاتـه د ځینوهغـو شـیطاني ورکشـاپونو پـایلې او نتـایج ښـه روښـانه شـوي دی چـې هـره ورځ څـه خپـروي ؟ د کـوم کلتـوراو دیـن د هنداري په توګه کار کوي ؟

او د دغه علني او ښکاره بې دینۍ او فحاشت د خپرولو مسئولیت د چا پرغـاړه دی ؟ او په اړه به یې له چا پوښتنه کیږي ؟

د مسیحیانو عبادت

د مسیحیانو عبادت یواځې په کلیسا پورې تړلی دی او هرځوک هر چېرې نشي کولای عبادت وکړي.

مسیحیان چې کوم عبادت تر سره کوي مونږ یې په لنډه توګه بیانوو.

1- د تعمید غسل :(Baptism)

دا عبادت مسیحیت ته له داخلیدو مخکې تر سره کیږي تر څو د تیرو ګناهونوڅخه پاک شي، د کلیسا په مینځ کې یو حوض وي چې د تعمید د غسل لپاره پکی خاص اتاق او خاص کسان موجود وي. دغسل کولو وروسته هغه ته د رباني عشا (مقدس خوراک) اجازه ورکول کیږي.

2- رباني عشا (مقدس خواراک)

د مسیحیت دین ته د ور اوښتو یا د مسیحیت قبلولو وروسته دا یو مهم عبادتي رسم دی چې د مسیح علیه السلام د قربانی د یادګار په توګه تر سره کیږي په دغه محفل کې سرود ږغول کیږي وروسته د محفل حاضرین یو د بل سر او مخ ښکلوي او یو بل ته مبارکي وایي وروسته له هغه ډوډی او شراب راوړل کیږي حاضرینو ته تقسیمیږي، ډوډی د مسیح په جسم او شراب د مسیح په وینه بدلیږي (حال دا چې په اصل کې هیڅ تغیر نه پیدا کوي)

3- لمونځ (د حمد ویل):

سهار او مانښام لمونځ لري ولې د رکعتونو شمیر یې معلوم نه دی.

لمونځ یې عبارت دی له دعاګانو، تسبیحاتو او سرود څخه د لمونځ کول او د روژې نیول یې اختیاري دي.

4- روژه :

د مسیحیانو روژه د غوړ خواراک او حیواني غذا (غوښه، شیدې اونور) څخه منع او په حبوباتو اکتفا کولو څخه عبارت ده . د روژې وخت او کیفیت د هغوی د فرقو ترمنځ مختلف دی.

5- اعتراف :

د دینی عالم سره ناسته اوهغه ته په خپلو کړوگناهونو باندې اعتراف کول، د یوه دینی عالم په مخ کې دغه اعتراف ده ته د بخښنې سبب گرځي او د آخرت له جزا څخه نجات مومي.

6- د مغفرت سند :

دا سند چې هر څوک واخلي د تیر او راتلونکي وخت گناهونه یې بخښل کیږي، دا سند مختلف قیمتونه لري شاید یو څوک کلیسا ته د ډیرو پیسو د ورکولو په بدل کې په جنت کې د څو متره جایداد خاوند وگرځي (الموسوعة الميسرة ص ۴۰۵)

د مسیحیان کتابونه

د مسیحیانو کتابونه په دوو برخو ویشل شوي:

- عهد قدیم : یعنی تورات چې د مسیحیت اصل او جوهر بلل کیږي.
- عهد جدید : د انجیل هغه معتبر او موثق کتابونه دي چې کلیساوو په دریمه پیړۍ کې په هغه باندې اعتراف لرلو په لاندېول دي.

1- د متې انجیل 2- لوقا انجیل 3- مرقص انجیل 4- یوحنا انجیل

1- متې انجیل:

متې انجیل د مسیح علیه السلام دولسو شاگردانو ته منسوب دی چې دغه انجیل یې په عبراني اوسرياني ژبو لیکلی دی او د هغه یو پخوانۍ نسخه په یوناني ژبه

پیدا شوي ده او دا چې چا دغه انجیل تدوین او ترجمه کړي ؤ په اړه یې ډیر اختلافات وجود لري.

2- مرقص انجیل:

ددې انجیل لیکونکی یوحنا دی چې د مسیح علیه السلام د شاګردانو له اویا کسیزې ډلی څخه ؤ مسیح علیه السلام هغه د مسیحیت د دعوت او خپورولو لپاره ټاکلی ؤ چې د مسیحیت په خپرولو او دعوت کې یو فعال کس بلل کیده نومړی په 62 میلادي کال کې په قتل ورسید.

3- لوقا:

یو طبیب او رسام سړی ؤ چې اصلاً یهودی وو هغه د پاولز د سفر او اقامت له ملګروڅخه ؤ او د مسیح علیه السلام له شاګردانوڅخه نه ؤ .

4- یوحنا:

د ابن صیاد له ملګروڅخه ؤ چې په مسیح علیه السلام ډیرګران ؤ مګرځینې بیا وایي چې هغه یو مجهول کس ؤ چې په شروع کې په یواځې توګه ده په تثلیث باندې عقیده لرله.

داسې تر سترګو کیږي چې دا څلور واړه انجیلونه مسیح علیه السلام نه دي لیکلي او لیکونکو یې د هغې د لیکلو سویه او اهلیت نه لرلو او نه هم دینی علماء وو .نو ځکه کوم شرایط او اصول چې د آسماني کتاب لپاره وي په دې کتابونو کې نه تر سترګو کیږي.

سربیره په دې کتابونو دوه ویشت لیکنی هم موجودې دي چې پاولز،یعقوب، یوحنا او یهودا ته منسوبې دي.

د انجیل د کتابونو تحریف

عیسیٰ علیه السلام د نورو ټولو پیغمبرانوعلیهم السلام په شان له حق دین او توحید سره د الله (جل جلاله) له لوري خلکو ته لیږل شوی ؤ یو آسماني دین ؤ چې توحید او د یوه الله بنده گي یې په ټولو عباداتو کې ښکاره وه مگر نن ورځ دغه دین په پوره توگه له اصل سره فرق لري اوکاملاً تحریف شوی دی.

دا چې ولی مسیحیت له اصلی کرښې کوږ شوی عوامل یې په لاندې ډول ستاسې خدمت ته وړاندې کوو:

1- ددې دین د پیروانو کمزورییا ضعیفوالی:

مسیحیت له اول څخه د دوښمن ترحملو او یرغل لاندې ؤ مسیح علیه السلام د یهودو تر تعقیب لاندې ؤ اوکوښښ یې کولو چې قتل یې کړي خو الله (جل جلاله) ده ته نجات ورکړ اوخپل لوري ته یې اوچت کړ د مسیح علیه السلام له پورته کیدو وروسته د دغه دین مهم اود سر کسان د یهودو لخوا ووژل شول چې په دې سره پاتې نور مهم کسانو گنج کنار ته وتښتېدل او ځانونه یې پټ کړل بلې خوا د روم امپراطورانو په کال د 71 او 135 کې د شام پرځمکو حملې وکړې چې په نتجه کې یې مسیحیان سخت مظلوم شول په دې خاطر د مسیحیت دعوتگر ونه توانیدل په سمه توگه خپل دعوت پر مخ بوزي.

نوځکه د مسیحیت له عقیدې سره مخالف او درواغجن افکار او تعلیمات پکې گډ شول او د مسیحیت د اصلی عقیدې ځای یې ونیولو.

2- د انجیل له منځه تلل او دسند تېتیدل:

اوسني چې څومره انجیلنونه دي په یوه کې هم د عیسیٰ علیه السلام د انجیل کوم اثر نه ښکاري او نه له هغې سر سرخوري ځکه مسیحیانو د عیسیٰ علیه السلام له پورته کیدو وروسته اعتنا نده کړي وروسته له ډیرې مودې څخه ډیر

انجیلونه لیکل شوی دي د هغه لیکونکي اومأخذ کوم چې تکیه وربانديې کیږي په سمه توګه نه دي بیان شوي.

او بل دا چې له انسان څخه هسې هم فطرتاً غلطی کېږي په تیره بیا چې د داسې چا په لاس ولیکل شي چې افکار اوعقاید یې په بت پرستی، شرک او شهوت رانې ولاړ وي څنګه اعتماد وشي هغوی که هر څومره د یوه آسمانی کتاب رنګ ورکړي عاقل انسان به یې څنګه ومني ؟

3- پاولز یهودی:

پاولز یو له سختو دوښمنانو د مسیح علیه السلام څخه ؤ چې یومعتصب یهودی ؤ د طرمدس په ښار کې د شرک او بت پرستی نه ډک محیط کې تربیه شوی ؤ.

پاولز کوښښ کولو ترڅو په هره طریقه چې وي خپل ځان د مسیحیت او د حوارینو(دعیسیٍ شاګردانو) ته نږدې کړي مګر د هغوی لخوا قبول نشو ځکه چې هغوی د ده په ناولې عقیده، او هغه کینه او حسد یې چې د عیسیٍ علیه السلام او د هغه له پیروانو سره لرله خبر ؤ.

بلاخره د حوارینو له جملی (برناپا) په نوم کس سره بلد شو او ویې کړای شول چې د مسیحیانو په قطار کې خپل ځان ځای کړي له لږ وخت وروسته هغه د مسیحیت په دعوتګرو کې لومړی مقام ونیو.

هغه یو فعال سړی ؤ چې ډیرو مناطقو ته یې د دعوت لپاره منډی ترړې وهلې مګر ده چې د مسیحیت پر وړاندې د چل اومکر نه ډک کوم تعصب او کینه لرله وکولای شول چې د مسیحیت دین له خپل خط سیر څخه وباسي او منحرف یې کړي او د شرک او بت پرستی عقاید یې خلکو ته وړاندې کړل.

کومې لیکنې چې له پاولز څخه پاتې شوی دي دا پوره واضح کوي چې د ده نظرایات له مسیحیت سره په ټکر کې دي چې په لنډ ډول یې ځنې ټکي په لاندې ډول دي:

الف)- د پاولز دا ادعا چې عیسیٰ د خدای زوی دی دغه د پاولز خبرې په هغه خط کې واضح شوی وې کوم چې د غلاطیه طرف ته یې لیږلی ؤ چې وروسته دغه مفکوره د مسیحیانو په پیروانو او ټولنو کی رواج شوه چې بلاخره یې دا مفکوره د عقایدو یو بنا وګرځیده .

مګر په متی انجیل او یوحنا انجیلونو کې ددی مفکوری خلاف روایات موجود دي چې هلته لیکل شوي :(چې مسیح خپل ځان بنده او د خدای رالیږل شوی بولي).

ب)- پاولز په دې نظر ؤ چې د عیسیٰ د نزول هدف په دار ځړول ؤ تر څو د بنی آدمو ګناهونه په دې وسیله محوه شي دا مفکوره یې په هغه خط کې واضح ده چې د رومیې اوکورنثوس په طرف لیږلی وو.

مګر د متی او مرخص په انجلینو کې ددی مفکورې خلاف لیکل شوی دي چې عیسیٰ علیه السلام ددی لپاره لیږل شوی ؤ تر څو خلک د یو الله د بنده ګی طرف ته وبولي

ج)- د پاولز بله ادعا دا وه چې عیسیٰ علیه السلام ټولو انسانانو ته لیږل شوی مګر دغه ادعا د متی انجیل داسې ردوي او دعیسیٰ علیه السلام قول لیکی : (زه نه یم لیږل شوی مګر د بني اسرائیلو د خرافاتي او ګمراه خلکو لپاره)، قرآنکریم هم د عیسیٰ علیه السلام رسالت یواځې د بني اسرائیلو لپاره بیان کړی دی.

د)- پاولز د موسیٰ علیه السلام شریعت له منځه یوړ او داسې ادعا یې لرله چې انسان یواځې په ایمان سره نجات مومي او عمل ته ضرورت نشته کله چې

پاولز دغه ادعا وکړه چې د مسیح دعوت او شریعت د ټولـو خلکـو لپـاره دی نـو یهودیان یې پر ضد را وپارېدل . پاولز په دې پوه وه چې د موسـی علیـه السـلام د شریعت موجودیت د ده د دعـوت مـانع ګرځـي نـو ځکـه یـې د موسـی علیـه السلام د شریعت بطلان اعـلان کـړ وروسـته یـې نـور شـاګردان هـم ورسره یـوه خوله شول او ټول هغه اعمال او اوامر چې په بني اسرائیلو واجـب وو لـه منځـه یوړل بغیر له زنا، د مردارحیوان د غوښې خوړل اوهغه څه چې بتانو ته بـه ذبـح کیږي په لومړي حکم کې یې باقي وګرځول.

ه) - د خنته یا سنتی له مینځه وړل:

خنته یا سنتی د ابراهیم علیـه السـلام، موسـی علیـه السـلام او عیسـی علیـه السلام په ادیانو کې موجود وه مګر پـاولز د ختنـه (سـنت کولـو) مسـئله پـه بشـپړه توګه له منځه یوړه . دا ناولې مفکوره یې د رومیه اوتیموشاوش تـه پـه لیـږل شـویو خطونو کې واضح ده.

دا وه مسیحیت ته د پاولز لوی خـدمت چـې یـوه بـې سـتنو کوټـه یـې پـر ځـای پریښې پاولز یا بل شخص داحق نه درلود چې د یوه دین په احکامو او اوامرو داسې بازي وکړي بلکي دا بې له لوی خیانت او ستر کفر بل څه نه دي.

که په ځیر سره وکتل شي د مسیحیت دیانت د پاولز له خـبرو او مفکـورو څخـه عبارت دی او د مسیح علیه السلام بغیر له نوم نه بل څه نه دي پاتی.

4- دبت پرستی او فلسفې د عقایدو او افکارو اثر پر مسیحیت باندې:

مسیح علیه السلام د بنی اسرائیلو خرافاتي او ګمراه خلکو ته لیږل شوی ؤ هغه بـه همیشه خپلو پیروانو ته ټینګـار کولـو ترڅـو خپلـو هغـو نږیـدې کلیـو تـه لاړ نشـي- چېرې چې یهودان استوګن وي.

مگر د وخت په تېرېدو سره هغوی د مسیح علیه السلام اوامرو ته شا کړه او د روم، یونان او فارس بت پرستو خلکو ته یې مخه کړه له دې ځایه څخه ښکاري چې د مسیحیت کډېدل د بت پرستو خلکو سره په نړیوال توب دلالت نه کوي نه تنها چې ونتوانیدل نور امتونه یې تسلط کړی وای بلکی د بت پرستۍ رنګ یې ځان ته غوره کړ او یو تحریف شوی دین پاتي شو.

د مسیحیت ډلې او فرقې

اول دکاتولیک فرقه:

دا فرقه یاډله د پاپ پیروان دي، چې په روم کې اوسیږي اومهم عقاید یې په لاندېډول دي:

- په دې معتقد دي چې روح قدس (جبریل) له پلار او زوی څخه راوتلی دی.
- کوم حیوان چې ذبح شوی نه وي د هغې غوښه او وینه مباح ګڼل.
- پاپ په واتیکان کې د ټولې نړۍ د کاتولیکانو مشر دی.
- طلاق حرام بولي حتی د زنا په حالت کې هم.

دا فرقه یاډله په لودیځه اروپا اوجنوبی امریکا کې ژوند کوي.

دوهم د ارتودکس فرقه:

دا فرقه په قسطنطینیه کې د شرقي کلیسا پیروان دي مهم عقاید یې په لاندېډول دي

- روح قدوس تنها له پلار څخه راوتلی.
- طلاق حرام ګڼی مګر د زنا په حالت کې یې روا بولي.
- د یو مشر تر بیرغ لاندې نه جمع کیږي بلکي هره کلیسا څپلواکه او مستقله وي.

دا فرقه په شرقي اروپا او روسیه کې ژوند کوي.

دریم د پروستانت فرقه:

دا فرقه مارتن لوثر ته منسوبه ده دغه فرقه په شپږمه پیړۍ کې د لومړۍ ځل لپاره په آلمان کې ظهور وکړ او هغوی غوښتل چې په کلیساوو کې اصطلاحات رامینځه ته کړي مهم عقاید یې په لاندېول دي:

- د مغفرت سندونه ټول دروغ دي او ګناهونه ټول په توبه او رجوع سره بخښل کیږي.
- هرڅوک حق لري چې انجیل ولولي او پوه شي بغیر له دې چې کلیسا ته رجوع وکړي.
- په کلیسا کې د تصویرونو ځړول او د مجسیمو نصبول حرام دي ځکه دغه کار د بت پرستانو دی.
- رهبانیت او ځانتوالی منعه دی.
- د مقدس خواراک (شکرانه) په اړه چې د مسیح د قربانۍ د یادګار لپاره ترسره کیږي او د مسیحیانو دغه ادعا چې ډوډۍ او شراب د مسیح په غوښه او وینه بدلیږي هغوی له دغه ادعا څخه انکار کوي او ردوي یې .

د مسیحیت د خپرېدو او نشرمخ نیوی

په هر مسلمان لازمه ده چې د اسلام په خپرولو او نشر کې تر خپله وسه ونډه واخلي ځکه اسلام د ټول بشریت لپاره نازل شوی دین دی که څه هم قرآنکریم په ډیرو واضحو دلائلو نازل شوی خو بیا هم داسې مناسبو وسائلو ته ضرورت لري چې د هرې ټولنې سره مناسب وي.

همدارنګه هر مسلمان مکلف دی تر خپله وسه د باطلو ادیانو د خپراوي مخنیوی وکړي او د هغوی له پوچو او پلیتو اهداف پرده پورته کړي.

مونږ دلته په لنډ ډول د مسیحیت د دعوت د مخنیوی لپاره څه لارې ستاسې خدمت ته وړاندې کوو الله تعالی دې وکړي چې د دین په لاره کې یوګټورګام تمام شي.

1- مسلمانان باید په اسلامې احکامو اوآدابو ځانونه برابر کړي تر څو په ټولنه کې د اسلامې اخلاقو او آدابو یوه نمونه وګرځي او پدې توګه نور خلک خپل دین مایل کړي.

نن عصر کې خو ځینې داسې په نوم مسلمانان هم پیدا کیږي چې داسې کارونه تر سره کوي چې ټول مسلمانان وربانديې شرمیږي له بده مرغه دنورو ادیانو پیروان اسلام د خلکو په اعمالو کې مطالعه کوي.

2- د هېواد نصاب او تعلیمي پروګرامونه په ټولو مراحلو کې باید د اسلامې شریعت موافق وي ترڅوټولنې ته داسې نسل وړاندې کړي چې په دین ښه خبر وي.

3- ټول خپل مینځې اختلافات او د تفرقو اسباب باید د مسلمانانو له مینځه لري شي خو دغه کار یواځې د اسلامې وحدت اسلامي نظام او د قرآن تر سیوري لاندې تر سره کیدای شي.

4- د اسلامې هېوادونو حکومتونه باید اسلامي احکام پلي یا عملی کړي او د پردیو له ساختګی یا د انسان په لاس جوړ شویو قوانینو د پلی کولو څخه ډډه وکړئ

5- باید د اسلام د خپرېدو لپاره په هر ممکنه لاره د کتابونو لیکل، چاپول، کلتوري فعالیتونه اونورو ممکنه لارو څخه خپوراو نشر شي تر څو اسلام په حقیقي ډول خلکو ته ورسیږي ځکه اسلام هغه دین دی چې عقل مخاطبوي که کومه

مسئله او مشکل پیښ شي هغه باید د قرآن او سنتو په رڼا کې حل شي او مسیحیت او پردیو قوانینو ته د مداخلې موقع ورنه کړل شي.

6- باید ماهر دعوتگر انتخاب شي چې د دعوت په حکمت پوه وي او نورو هېوادونو ته واستول شي تر څو خلکو ته په ښه شان اسلام وړاندې کړي.

7- داسې مؤسیسات او ټولنې جوړې شي چې مسلمانانو ته د مسیحیت د دعوتگرو له توطئه او پلانونه څخه پرده پورته کړي او د هغوی د باطل حرکت پر وړاندې د خنثی کولو چټکګامونه پورته کړي.

8- د اسلامي هېوادو حکومتونه باید هغه روغتونونه، کلتوري مراکز،تعلیمې کورسونه او نور چې د خارجیانو تر نظارت لاندې دي تر کلکې څارنې لاندې ونیسی او د دوی ټول فعالتونه تعقیب کړي.

9- د هغو کسانو د قیصو نشرول چې نوی په اسلام مشرف شوی وي تر څو نور هم تشویق شي او په ستر الهی رحمت کې داخل شي. (التنصیر فی البلاد اسلامی ص 98-106)

په اسلام کې د مسیح علیه سلام مقام

مسیح علیه السلام د بی بی مریمې زوی چې بې پلاره دنیا ته راغلی دا یوه عجیبه اوحیرانونکی حادثه ده ولی نظر د آدم علیه السلام پیدایښت ته ډیره حیرانونکی نه ده ځکه الله (جل جلاله) هغه بې پلاره او مور له خټوڅخه پیدا کړی دی الله سبحانه وتعالی فرمایي:

[إِنَّ مَثَلَ عِيسَى عِندَ اللّهِ كَمَثَلِ آدَمَ خَلَقَهُ مِن تُرَابٍ ثِمَّ قَالَ لَهُ كُن فَيَكُونُ] (آل عمران 59)

ژباړه : د الله په وړاندې دعیسې مثال د آدم غوندی دی چې الله هغه له خاورو نه پیدا کړ او امر یې ورته وکړ چې شه نو وشو .

قرآنکریم یواځنی منبع ده چې د عیسیٰ علیه السلام د پیدایښت قیصه یې په ښه اسلوب اوعجاز سره بیان کړې الله سبحانه وتعالی فرمایي :

[وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ مَرْيَمَ إِذِ انتَبَذَتْ مِنْ أَهْلِهَا مَكَانًا شَرْقِيًّا16 فَاتَّخَذَتْ مِن دُونِهِمْ حِجَابًا فَأَرْسَلْنَا إِلَيْهَا رُوحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا 17 قَالَتْ إِنِّي أَعُوذُ بِالرَّحْمَنِ مِنكَ إِن كُنتَ تَقِيًّا 18 قَالَ إِنَّمَا أَنَا رَسُولُ رَبِّكِ لِأَهَبَ لَكِ غُلَامًا زَكِيًّا 19 قَالَتْ أَنَّى يَكُونُ لِي غُلَامٌ وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ وَلَمْ أَكُ بَغِيًّا 20 قَالَ كَذَلِكِ قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ وَلِنَجْعَلَهُ آيَةً لِّلنَّاسِ وَرَحْمَةً مِّنَّا وَكَانَ أَمْرًا مَّقْضِيًّا 21 فَحَمَلَتْهُ فَانتَبَذَتْ بِهِ مَكَانًا قَصِيًّا 22 فَأَجَاءَهَا الْمَخَاضُ إِلَىٰ جِذْعِ النَّخْلَةِ قَالَتْ يَا لَيْتَنِي مِتُّ قَبْلَ هَٰذَا وَكُنتُ نَسْيًا مَّنسِيًّا 23 فَنَادَاهَا مِن تَحْتِهَا أَلَّا تَحْزَنِي قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا 24 وَهُزِّي إِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ تُسَاقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا 25 فَكُلِي وَاشْرَبِي وَقَرِّي عَيْنًا فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ أَحَدًا فَقُولِي إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمَٰنِ صَوْمًا فَلَنْ أُكَلِّمَ الْيَوْمَ إِنسِيًّا 26 فَأَتَتْ بِهِ قَوْمَهَا تَحْمِلُهُ قَالُوا يَا مَرْيَمُ لَقَدْ جِئْتِ شَيْئًا فَرِيًّا 27 يَا أُخْتَ هَارُونَ مَا كَانَ أَبُوكِ امْرَأَ سَوْءٍ وَمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا 28 فَأَشَارَتْ إِلَيْهِ قَالُوا كَيْفَ نُكَلِّمُ مَن كَانَ فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا 29 قَالَ إِنِّي عَبْدُ اللَّهِ آتَانِيَ الْكِتَابَ وَجَعَلَنِي نَبِيًّا 30 وَجَعَلَنِي مُبَارَكًا أَيْنَ مَا كُنتُ وَأَوْصَانِي بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ مَا دُمْتُ حَيًّا 31 وَبَرًّا بِوَالِدَتِي وَلَمْ يَجْعَلْنِي جَبَّارًا شَقِيًّا 32 وَالسَّلَامُ عَلَيَّ يَوْمَ وُلِدتُّ وَيَوْمَ أَمُوتُ وَيَوْمَ أُبْعَثُ حَيًّا 33 ذَٰلِكَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ قَوْلَ الْحَقِّ الَّذِي فِيهِ يَمْتَرُونَ 34 مَا كَانَ لِلَّهِ أَن يَتَّخِذَ مِن وَلَدٍ سُبْحَانَهُ إِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ] (36 مریم).

ژباړه : او یاد کړه (ای محمد) په دغه کتاب کې حال د مریمې چې کله هغه په ختیځه یا شرقي(څنډه) خوا کې له خپل اهل یا کورنۍ څخه بېله، جلا او ګوښه شوې وه او پټه ناسته وه او په دغه حالت کې مونږ هغه ته خپل روح (پرېښته) ولیږله او هغه د هغې په وړاندې په بشپړه انساني څهره بدله شوه، مریمې ناڅاپه

نارې کړې چې که ته له خدایه ویردونکی سړی وې نو زه له تا نه په رحمن خدای پناه غواړم، هغه وویل زه ستا د پروردګار استازی یم او ددې لپاره را لیږل شوی یم چې وښېم تاته یو هلک صالح، مریمې وویل زما به څنګه هلک وشي چې زه کوم بشر لمس کړی قدرې هم نه یم او نه کومه بدکاره ښځه یم.

پریښتی وویل همداسې به کیږي ستا رب فرمایي چې داسې کول ما ته ډیرآسان دي او مونږ دا کار ددې لپاره وکړو چې هغه هلک د خلکو لپاره یوه نیښانه شي او زمونږ له لوري یو رحمت او دا کار سرته رسیدونکی دی.

پس مریم په دغه هلک حامله شوه اوهغه له هلک سره چې په ګیډه کې یې درلود یوی لرې ځای ته لاړه، بیا د ولادت درد او کړاو ور باندې د خرما تر ونې لاندی راغی (مریمې له ډیری حیا وویل) کاشکي زه له دې نه مخکی مړه وای او نوم او نښان مې نه وای پاتي شوی.

پریښتې له لاندی هغې ته غږ وکړ ویې ویل مه خفه کیږه ستا پروردګار تر تا لاندې یو چینه بهولی ده .او ته لږ غوندې ددی ونې ډډ وخوځوه پرتا به خوږې او تازه خرماوې را تویي شي، نو وخوره او وڅښه او خپلی سترګی په دغه هلک روښانه کړه.

بیا که کوم یو انسان دې ولید نو ورته ووایه چې ما د رحمن خدای لپاره روژه نذر منلې ده ددې امله به زه نن له هیچا سره خبرې ونه کړم، بیا هغه له دې ماشوم سره خپل قوم ته راغله، خلکو وویل ای مریمې ! دا خو تا یو عجیبه څیز راوړی چې مخالف له عادته څخه دی .

ای د هارون خورې ! نه ستا پلار کوم بدکاره سړی ؤ او نه هم ستا مور کومه بد کاره ښځه ؤ، مریمې د خپل ماشوم طرف ته اشاره وکړه، خلکو وویل مونږ له ده سره څه خبرې وکړو چې په زانګو یا غیږ کې پروت دی او وړوکی (تي رودونکی) دی.

ماشوم غږ وکړ زه د الله بنده یم هغه ما ته کتاب راکړ پیغمبر یې کړم او برکتي یې کړم هرچیرې چې اوسم او د لمانځه او زکات د پابندی حکم یې راکړ ترڅو چې زه ژوندی اوسم، او د خپلې مور د حق ادا کونکی یې وګرځولم او زه یې سرغړونکی او بدبخته نه یم پیدا کړی.

سلام پرما چې زه پیدا شوم او کله چې مړشم او کله چې ژوندی را پاڅول شم.

دغه ده د مریمې د ځوی سرګذشت او دغه ده د هغه په باب رښتنی قیصه چې د هغه په باب خلک شک کوي.

د الله کار دا نه دی چې هغه څوک په زوی ولی ونیسي هغه پاک ذات دی هغه چې کله د کومې خبرې فیصله وکړي چې شه نو همداسې کیږي.

د مسلمانانو عقیده د ټولو انبیاء علیهم السلام په اړوند

په اسلام کې په ټولو پیغمبرانو ایمان لرل د ایمان یو رکن شمیرل کیږي که چېرې مسلمان په ټولو پیغمبرانو داسې ایمان ونه لري لکه په حضرت محمد صلی الله علیه وسلم هغه ته مسلمان نه ویل کیږي او که له پیغمبرانو څخه یو پیغمبر ونه مني هغه داسې دی لکه په ټولو پیغمبرانو چې کافر شوی وي مسلمان به په ټولو آسمانی کتابونو او پیغمبرانو ایمان لري الله سبحانه وتعالی فرمایي:

[آمَنَ الرَّسُولُ بمَا أُنزِلَ إِلَيْه من رَّبِّه وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ باللّه وَمَلآئكَته وَكُتُبه وَرُسُله لاَ نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُله وَقَالُواْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ] (البقره 285).

ژباړه : تصدیق کړی دی رسول په هغه شی چې نازل شوی دي ده ته له (طرفه) د رب د ده او مؤمنانو ټولو تصدیق او باور کړی دی په الله باندی او په پریښتو د ده او په کتابو د ده او په رسولانو د ده (په داسې حال کې چې وایي) فرق نه کوو په مینځ د هیڅ یو له رسولانو د الله او وایي واوریده مونږ (پیغام) ستا او قبول کړ

مونږ (حکم ستا) غواړو مونږ مغفرت ستا ای ربه زمونږ! او خاص تاته دي درتلل (دهرچا).

الحمد لله مونږ مسلمانان د هیڅ کوم کتاب او پیغمبر سره کینه او دوښمني نه لرو مونږ تر ټولو نږدې خلک یوعیسې علیه السلام زوی د مریم ته.

دعیسې علیه السلام او د هغه د پاکدامنه اوعفیفې مور مریم سره محبت او مینه زمونږ په زړونو کې ځای لري.

دا محبت زمونږ د مسلمانانو د ټولو پیغمبرانو په وړاندې دی.

پس آیا د دوی هم دارنګه محبت او احترام زمونږ له پیغمبر سره شته ؟

په دې د مسیحیت د ځینو پوهانو اعترافات:

برناردشو وایي : (د محمد صلی الله علیه وسلم پیروان د عیسې علیه السلام په اړه د ستر ادب او احترام لرونکی دي).

یوبل په نوم د م .کویټ داسې وایي (غربیان د اسلام په وړاندې د کینې اوعداوت په فضا کې لوی شوی دي برعکس مسلمانان د عیسې علیه السلام او د هغه کتاب انجیل سره ډیره مینه او دوستي لري)

بریطانوی ارسکین چایلدرز وایي : (د مسلمانان روابط له اول څخه د نورو امتونو سره مساوی نه وو ځکه اسلام په ټولو آسماني ادیانوایمان لري او په مخکنیو پیغمبران ایمان لرل یې د عقیدي یو جز دی مګر نورو ادیانو اسلام په رسمیت نه دې پېژندلی، نه یې په هغه اعتراف کړی او نه هم یوه ورځ له هغوی سره د دوستی اومسالمت له مخې ولاړل.

رینیه دیکارټ په یوه مقاله کې وایي : (مسلمانان د عیسې علیه السلام او محمد صلی الله علیه وسلم په رسالت عمل کوي مګر مونږ په دوهم رسالت (اسلام) عمل ونه کړکه چېرې مونږ په انصاف قضاوت کړی وای نو حتمي به د هغوی تر

څنګ درېدلي وو ځکه د مسلمانانو رسالت له هرځای او هر وخت سره مطابقت کوي.

استاذ محمد غریب (مسلمان) وایي :(که مسیحیانو اسلام درک کړی وای او په اسلام مشرف شوی وای دوی به له پخوا څخه د مسیح علیه السلام زیات احترام اوعزت کولو).

په آخر زمان کې د عیسیٰ علیه السلام د نزول په اړه زمونږ عقیده

عیسی علیه سلام به د دجال د خروج نه وروسته د الله تعالی په حکم ځمکې ته را کوز شي دغه وخت کې به ځمکه د دجال له فتنو او فساد څخه ډکه وي د هغه نزول به د داسې خلکو په مینځه وشي چې د دجال د مقابلې لپاره جمع شوی وي او دوی به غواړي د دجال پر وړاندې وجنګیږي.

عیسیٰ علیه السلام به د رسول الله صلی الله علیه وسلم د یو امتي په حیث ځمکې ته راښکته کېږی، نه د یو نوي پیغمبر په حیث او دی به د اسلام په شریعت باندې عمل کوي.

د نواس بن سمعان په یوه اوږده حدیث شریف کې د عیسی علیه سلام نزول داسې بیان شوی دی : الله تعالی به په دغه وخت کې عیسی علیه سلام مبعوث کړي، د هغې نزول به د دمشق شرقي سپینه مناره باندې وي د هغې په بدن باندې به زیړه جامه وي هغه به د دوو فرشتو په وزرونو باندې تکیه کړی وي، چې کله هغه سر ښکته کړي نو د اوبو څاڅکي به د هغه د ویښتو نه راتوئي شي او چې سر مبارک پورته کړي نو د ملغلرو د رنګ په شان څاڅکي به د هغه په تندې راتوئی شي، د هغه مبارک ساه چې کوم کافر ته ورسي هغه به فوراً د مرګ پیاله وڅکي د هغه د ساه مسافه به د هغه د نظر لګیدو په اندازه وي (تر څومره ځای چې د هغه نظر پریوځي تر همغه ځای به د هغه د ساه تأثیر وي) دغه وخت به

حضرت مسیح هم د دجال په تلاش کې وي عیسی علیه سلام به دجال تعقیب کړي او هغه به بیت المقدس ته نږدې باب لد نومې ځای کې قتل کړي . (رواه مسلم).

ابن کثیر وایي:

دا قول مشهور دی چې عیسی علیه سلام به د دمشق په البیضاء شرقي مناره نازل شي په ځنیو کتابونو کې مې لیدلي دي چې د دمشق د امویانو د جامع جومات په شرقي البیضاء نومي مناره به ښکته شي او دا وخت به د لمانځه د ادا کولو وخت وي او د مسلمانان امام به ده ته وایي چې د امامت د پاره مخکې شه عیسی علیه سلام به ووایي : تاسې مخکې شئ ځکه تاسې ته اقامت ویل شوی دی او په یوه بل روایت کې راغلی دي چې په دې خاطر چې الله تعالی ته دغه امت محترم دی نو له تاسې څخه امام ونیسئ («صحیح مسلم» و «النهایة الفتن و الملاحم» (1-144-145)

علماؤ په آخر زمان کې د عیسی علیه سلام د نزول حکمت داسې بیانوي:

اول : د یهودو د درواغو ردول چې هغوی وایي مونږ عیسی علیه سلام وژلی دی، پس الله تعالی د دوی دروغ ښکاره کوي او عیسی علیه سلام د یهودو رئیس دجال او پیروان یې په قتل رسوي.

الله تعالی فرمایي : [وَقَوْلِهِمْ إِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيحَ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُولَ اللّهِ وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَكِن شُبِّهَ لَهُمْ وَإِنَّ الَّذِينَ اخْتَلَفُواْ فِيهِ لَفِي شَكٍّ مِّنْهُ مَا لَهُم بِهِ مِنْ عِلْمٍ إِلاَّ اتِّبَاعَ الظَّنِّ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًا](النساء 157) .

ژباړه: او د دوی ددې خبرې (له کبله) چې مونږ بې له شکه د الله رسول د مریم زوی عیسی وژلی دی . په داسې حال کې چې دوی هغه نه دی وژلی او نه یې هم په دار ځړولی دی، بلکې پر دوی (دغه پېښه) همشکله (مشابه) شوی وه . او

یقیناً هغه کسان چې د هغه په اړه یې اختلاف کړی دی د هغه په اړوند شکمن دي چې پدې هکله د ګمان له پیروی څخه نور هیڅ کوم علم نه لري او په رښتیا چې دوی عیسی نه وو وژل.)

دوهم : حضرت عیسی علیه سلام په انجیل کې د محمد صلی الله علیه وسلم د امت فضائل لوستي وو لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي :

[مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّه وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاء عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاء بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلاً مِّنَ اللَّه وَرِضْوَانًا سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ السُّجُودِ ذَلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَمَثَلُهُمْ فِي الإِنجِيلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْأَهُ فَآزَرَهُ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَى عَلَى سُوقِهِ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنْهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا]

ژباړه : محمد د الله رسول دی . او هغه کسان چې له ده سره دي د کافرانو په مقابل کې سخت او په خپلو کې خواخوږي دي، دوی به تل رکوع کوونکي او سجده کوونکي وینې او دوی د الله فضل او خوښي غواړي . د دوی نښانې د دوی په مخونو کې د سجدې له کبله (ښکاره) دي دا د دوی صفت په تورات کې دی او (دا) د دوی صفت په انجیل کې، د دوی بیلګه داسې ورکړ شوی ده لکه کښت چې لومړی تیغ را وټوکوي بیا هغې ته ځواک او وده ورکړي او بیا کلک او پر خپل ډډ باندې ټینګ شي (تر دې حده پورې چې) بزګر (د خپلې ودې له کبله) په تعجب کې اچوي، څو چې کافران د هغوی پر ځواکمنۍ او سمسورتیا له غوسې وسوځي، د دغې ډلې خلک چې ایمان یې راوړی دی او ښې کړنې یې کړی دي الله د دوی سره د بخښنې او سترې بدلې ژمنه کړې ده).

نوځکه حضرت عیسی علیه سلام د الله تعالی په دربار کې دعاء وکړه چې ما د محمد صلی الله علیه وسلم په امت کې حساب کړې، مهربانه الله تعالی د ده

دعاء قبوله کړه، او هغه یې دې ته انتخاب کړ چې په آخر زمان کې د محمدي صلی الله علیه وسلم د دین د قیام او نصرت لپاره ځمکې ته راښکته شي د دین نصرت وکړي او د اسلام د دښمنانو پر وړاندې مبارزه وکړي.

دریم : د حضرت عیسی علیه سلام د نزول بله وجه دا ده چې د هغه اجل نږدې شي او هغه په ځمکه کې دفن شي ځکه داسې باید ونشي چې د خاورو مخلوق د خاورو د باندې بل چیرته مړه شي، پس د هغه نزول د دجال له وتلو وروسته دی تر څو هغه هلاک کړي او وروسته به وفات شي.

څلورم : د عیسی علیه سلام د نزول خاصوالی ددې لپاره دی چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي: زه تر ټولو خلکو عیسی ته نږدې یم زما او د هغه تر مینځ هیڅ کوم بل پیغمبر وجود نه لري (روا بخاري)

عیسی علیه سلام زیری ورکړی وو چې زما وروسته به بل پیغمبر مبعوث شي چې نوم به یې احمد وي او خلک یې په هغه باندې تصدیق او ایمان ته دعوت کړي وو لکه چې الله جل جلاله فرمایي : [وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِنْ بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ] (صف: 6)

ژباړه : او زه زېری ورکونکی په هغه پیغمبر یم چې وروسته له ما نه به راشي او نوم به یې احمد وي.

حضرت عیسی علیه سلام به د محمد صلی الله علیه وسلم په شریعت باندې حکم کوي او هغه د نزول پر مهال له ځانه سره نوی دین نه راوړي بلکې په اسلام به فیصلي کوي ځکه چې د اسلام دین خاتم د ادیانو دی او کامل وروستی دین دی چې د قیامت تر ورځې به باقي وي نو هغه وخت به حضرت عیسی علیه السلام یو حاکم وي له حاکمانو د اسلامې امت څخه‌ځکه چې د محمد صلی الله علیه وسلم نه وروسته بل پیغمبر نه راځي.

د عیسی علیه سلام دور یا زمان به هم د حضرت مهدي په شان د امنیت، سلامت خوشحالۍ دور وي بارانونه به زیات اوریږي آب سالي به وي ځمکه به ښه حاصل خیزه وي خلک به مالداره وي، کینه او حسد به نه وي.

حضرت عیسی علیه سلام به چلویښت کاله ژوند وکړي او وروسته به د فاني نړۍ نه رخصت شي.

د مسیحیت د منسوخ دلایل

1- مسیحیت د قرآن په نزول سره منسوخ شوی:

د حضرت عیسيٍ (علیه السلام) دین د قرآنکریم په نزول سره منسوخ شوی دی او حضرت عیسی(علیه السلام) خپل قوم ته ویلی ؤ چې وروسته له ما څخه به بل پیغمبر راشي چې د هغې نوم به احمد وي تاسې بیا د هغه اطاعت او پیروی کوئ، لقوله سبحانه وتعالی[: وَإِذْ قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُم مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَاةِ وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِن بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ فَلَمَّا جَاءهُم بِالْبَيِّنَاتِ قَالُوا هَذَا سِحْرٌ مُّبِينٌ](الصف 6)

ژباړه : او یاد کړه هغه وخت کله چې وویل عیسی زوی د مریمی خپل قوم ته ای بنی اسرائیلو زه تاسې ته د الله تعالی رالیږل شوی پیغمبر یم چې تصدیق کونکی یم دهغه تورات چی مخکی له مانه راغلی او زېری ورکونکی د هغه پیغمبر چې له مانه به ورسته راشي دهغه نوم به احمد وي، خو کله چې دوی ته راغی سره له ښکاره نېښانونو دوی وویل دا خو ښکاره کوډې یا جادو دي.

د حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په باب خو په انجیل کی زېری څه چې دهغه (صلی الله علیه وسلم) ښکاره نیښانې هم ښودل شوې وې.

کله چې په محمد رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په غار حرا کی لومړی وحی راغله په داسې حال کی چې ویریدونکی ؤ خپلی بی بی ته یی حال بیان کړ بی بی خدیجې رضی الله عنها د خپل تره زوی ورقه بن نوفل کره بوتللو او هغه ته یې د سترګو لیدلی حال بیان کړ، ورقه چې په عبرانی ژبه لیکل کولای شول د خپل توان تر اندازې به یې انجیل لیکلو ده د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ښکاره نیښانې په یاد شوی آسمانی کتاب کې لیدلې وې نو ورته یې وویل قسم په پر خدای (جل جلاله) چې دا همغه فریښته ده کوم چې موسی (علیه السلام) ته به یې وحی راوړله.

کاشکي چې زه توان او وس مې وای ما به هم درسره مرسته کړی وای ځکه ستا ته به خپل ولس دوښمن شي او د خپل وطن پریښولو ته به دی اړ کړي .

حضرت محمد رسول الله (صلی الله علیه وسلم) چې کله دولس کلن شو خپل کاکا ابوطالب د شام په سفر ورسره مل کړ کله چی د بصرې نومې سیمی ته چې هغه وخت د روم تر امپراتوری لاندې وه ورسیدل دغه سیمه کی یو ډیر تاریخی او مشهور راهب ؤ چې په بحیرا مشهور ؤ.

راهب د محمد رسول الله (صلی الله علیه وسلم) نیښانی په آسمانی کتاب کې لیدلې وې.

څه وخت چې قافله ده ته رانږدی شوه له بالاخانې نه ویني چې یو تنکی ځوان دی چې هرې سیمې ته راشي بوټي او ونې د احترام سجده ورته کوي او په سر یې وریځ ولاړه ده.

راهب پوه شو او د باندی راووت ټوله قافله یې میلمانه کړل محمد رسول الله (صلی الله علیه وسلم) یې له لاس ونیوه اوخپل کاکا ته یی وویل دغه ځوان به دعالم سردار شي ځکه ما د ده نیښانی په آسماني کتاب کې لیدلی دي بوټي او نور هم

په انسانانو کې یواځې پیغمبر ته د احترام سجده کوي او بل دا چې د ده مبارک یوه بله نیښانه هم ده چې د دواړو ولیو ترمینځ به یې د نبوت مهر وي دا به زه اوس وګورم بیا یې مهر هم وکتلو اوهغه یې مچي کړ ابوطالب ته یې وویل چې دا وراره دې له یهودو اونصاراوو څخه ساته ځکه چې هغوی یې دوښمنان دي

نو په انجیل کې خو یې نیښانې هم راغلی وې ولی دوی هغه ورڅخه ړنګې کړی دي

او انجیل تحریف شوی دی اصلی نسخه یې نشته دهر هېواد جلا جلا کتابونه دي او ځانګړي تحریفات پکې شوي دي .

2 - عیسی (علیه السلام) یواځې اسرائیلي پیغمبر ؤ.

عیسی (علیه السلام) یواځې د اسرائیلو د قوم لپاره مبعوث شوی ؤ نه د ټولې نړۍ لپاره چی قرآن کریم یې داسې سپیناوی کوي:

[وَإِذْ قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُم]

ژباړه : او یاد کړه هغه وخت کله چې وویل عیسی زوی د مریمې خپل قوم ته ای بني اسرائیلو! زه تاسی ته د الله (جل جلاله) له لوري پیغمبر استول شوی یم.

حضرت محمد رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د نبیانو ختم (ورستنی پیغمبر) دی یو عالمي پیغمبر دی قرآن هم یو عالمي آسماني کتاب دی:

[مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا] (احزاب 40)

ژباړه : نه دی محمد پلار د هیڅ یو تن له سړیو ستاسې مګر رسول د الله دی او مهر او ختم د ټولو پیغمبرانو دی او دی الله په هر شي ښه عالم .

[إِنْ هُوَ إِلاَّ ذِكْرٌ لِّلْعَالَمِين]

یعنې : قرآن یو عالمی کتاب دی

[وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلاَّ رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ] (الانبياء 107)
یعنې :محمد رسول الله رحمت د ټول عالم دی .
په دې اړه دعیسویت څخه په اسلام مشرف شوی اشوک یانګ داسی وایی:
اشوک کولن یانک د کلیسا د نړیوالې ټولنې پخوانی مشر چې په 2002 کال کی په اسلام مشرف شوی، پخوا له اسلامه به ده خپله عیسویت ته خلک رابلل او د انجیل ډولډول کتابونه یې مطالعه کړی دي هغه وایي:
د متی په انجیل 15 باب 5 جمله کې حضرت عیسی (علیه السلام) دارنګه فرمایي [زه نه یم رالیږلی شوی مګر د بنی اسرائیلو د بې لارو او کبرجنو خلکو لپاره.]
نو معلومه شوه چې مسیحي دین یوازې د اسرائیلو لپاره ؤ چې د پاک قرآن په نزول سره منسوخ شوی دی .

د مراجع او مصادر لړلیک

1- تفسیر نور (دکتور مصطفی خرم دل)، نشر احسان 1379هـ- ش.
2- التنصیر فی البلاد الإسلامیة، تألیف دکتور محمد ناصر الشثری، دار الحبیب، الریاض.
3- خصائص التصور الإسلامی، سید قطب، دار الشروق، بیروت 1415هـ.
3- التنصیر مفهومه واهدافه ووسائله وسبل مواجهته، علی ابراهیم الحمد النملة، مکتبة التوبة، الریاض 1419هـ.
5- دراسات فی الأدیان الیهودیة و النصرانیة، دکتور سعود عبد العزیز الخلف، أضواء السلف، الریاض 1422هـ.
6- الموسوعة المیسرة فی الأدیان والمذاهب المعاصرة، چاپ الندوة العالمیة للشباب الإسلامی، الریاض- 1409هـ.

7- الموسوعة الميسرة فی الأديان والمذاهب والأحزاب المعاصرة، الدكتور مانع حماد الجهنی، چاپ دار الندوة للطباعة والنشر والتوزيع، 1420هـ.
8- كنت نصرانياً وأسلمت، إعداد محيی الدين عبد الحميد، المطابع المجموعة الإعلامية 1414هـ.
9- پیامبران از دیدگاه قرآن تألیف استاد ابو الحسن الندوی ترجمهء محمد بهاؤ الدين حسينی، انتشارات تازه نگار 1378هـ.
10- لماذا اعتنقت الإسلام، استاد فوزی الحلبی، دار المسلم للنشر والتوزيع، الرياض 1422هـ.
11- مجلهء البيان، السنة 15ـ العدد 154ـ جمادی الآخرة 1421هـ.
12- سايت الإسلام.
13- سايت آن لاين اسلامي لارښود.